مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۲مه | ٤٦١مه گڼه

# دوې ورځې د پایلو تر اعلان پورې؛

## د ټاکنیزو ټیمونو او ټاکنو څېلواک کمېسیون ترمنځ ناندرۍ اوج ته رسېدلې دي



۳


د افغانستان په اړه د امریکا د تګلارې یوه دوامداره ستونزه
۲ مخ

د هند- افغان پالیسي؛ د راتلونکې سیالۍ نن
۲ مخ

پنځه هغه نښې چې وایي، تاسې مرستیال ته اړتیا لرئ
۳ مخ

## ځېره

۴ مخ



### گالیله

گالیله په فزیک، نجوم، ریاضیاتو او فلسفه کې عالم سړی و. هغه د داسې مهال عالم و، چې اروپایي انسان ورو ورو له تیارو رڼا ته مخه کړې وه. له ده سره ډېرو عالمانو ډېر نظریات نه منل، ځکه اروپا نوی نوی رنسانس ته گام اېښود او ترخې تجربې یې هېرولې.

## چارواکي: د تورخم پولې په عوایدو کې زیاتوالی راغلی



د ننگرهار چارواکي وایي، د ۲۴ ساعتونو لپاره د تورخم پولې له پرانیستل کېدو سره، د تورخم په ښارگوټي کې گمرکي خدمتونه هم شپه او ورځ فعاله شوي چې ورسره عواید هم د پخوا په پرتله ډېر زیات شوي دي.

د ننگرهار د والي ویاند عطاالله خوگیاڼي تېره ورځ ناوخته ازادي راډیو ته وویل: «تقریباً د ورځې په متوسط ډول لس میلیونه افغانۍ زمونږ په عوایدو کې زیاتوالی راغلی دی، د گمرک ټولې اسانتیاوې د تورخم په ښارگوټي کې د ښاروالۍ اداري له لوري خلکو او مسافرینو ته برابرې شوې، اوس ۲۴ ساعته باروړونکي موټر او عام خلک تگ راتگ کولای شي.»

د افغانستان او پاکستان ترمنځ د تورخم پوله څه کم دوې میاشتې مخکې د ځینو مراسمو په ترڅ کې چې د پاکستان صدراعظم عمران خان هم په کې گډون کړی و، پرانېستل شوه.


## سرچینې: د دوو امریکایي استادانو په بدل کې د انس حقاني په گډون، د طالبانو دوه مهم غړي خوشي کېږي

د ملي یووالي حکومت له مخالفتونو سره سره، ټاکل شوې د طالبانو درې جگپوړي غړي د افغان – امریکایي پوهنتون له دوو امریکایي او استرالیایي استادانو سره تبادله شي.

په خوشي کېدونکو کسانو کې د حقاني شبکې د مشر سراج الدین حقاني ورور انس حقاني، د سراج الدین حقاني ماما او د حقاني شبکې پخوانی مالي مسوول مالي خان ځدراڼ او له گوانتانامو څخه د طالبانو د را خوشي شوي غړي او د قطر دفتر د مرکچي پلاوي غړي محمد نبي عمري ورور قاري عبدالرشید عمري شامل دي. یوې نږدې سرچینې د نوم نه ښودنې په شرط کابل نیوز ته ویلي، چې د طالب بندیانو پر خوشي کېدو په دوحه کې د امریکا د ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد او طالبانو ترمنځ توافق شوی.

یادې سرچینې ویلي: «د کېوین کېنگ او ټېم وېک په بدل کې د طالبانو د دریو جگپوړو غړو د تبادلې توافقنامه څو ورځې مخکې د زلمي خلیلزاد او د طالبانو د قطر دفتر ترمنځ لاسلیک شوې ده. طالبان به د تبادلې په ترڅ کې لس افغان سرتېري هم خوشي کوي». انس حقاني او قاري عبدالرشید عمري په ۲۰۱۵ ز کال کې له گوانتانامو زندان څخه د ازاد شوي بندي مولوي محمد نبي عمري د کورنۍ د غړو په بلنه د ازادو شویو طالب بندیانو د لیدلو لپاره قطر ته تللي وو، خو له یوې اونۍ تېرولو وروسته، چې کله د اکتوبر په ۱۲مه بېرته پاکستان ته تلل، په بحرین کې امریکایي استخباراتو ونیول او قطر، دوبۍ او وروسته یې کابل ته را ولېږدول.

## امریکایي ځواکونه به خو کاله نور هم په افغانستان کې پاتې شي




۵ مخ

## یوناما خواستار برخورد قانونی با مولانا عبدالله کمیشنر کمیسیون انتخابات شده است



دفتر یوناما، در پی برخورد نامناسب مولانا عبدالله کمیشنر کمیسیون انتخابات با کارمندان این کمیسیون، کتباً از وی شکایت کرده و خواستار برخورد قانونی با وی شده است.

شکایت نامه ای که به زبان انگلیسی است و در اختیار رسانه ها قرار گرفته، نشان می دهد که تادامیچی یاماموتو نماینده ویژۀ سازمان ملل در افغانستان، از برخوردهای زشت و توهین آمیز مولانا محمد عبدالله کمیشنر کمیسیون مستقل انتخابات، با کارمندان این کمیسیون، کتباً شکایت کرده است.

در این شکایت نامه آمده است که شام ۱۴م عقرب ماه روان، مولانا محمد عبدالله کمیشنر کمیسیون مستقل انتخابات؛ به مذهب و قوم بشیر علی مسئول ملی مرکز جمع بندی نتایج، توهین کرده است.

همچنان یک منبع معتبر در کمیسیون مستقل انتخابات که خواست نامش در خبر ذکر نشود نیز برخورد زشت، توهین آمیز و تهدید به مرگ از سوی مولانا محمد عبدالله کمیشنر کمیسیون مستقل انتخابات را با یکی از کارمندان کمیسیون انتخابات تایید کرده و به پژواک گفته است که شام ۱۴م عقرب ماه روان، عبدالله با یکی از کارمندان کمیسیون، برخورد زشت و توهین آمیز کرده است.

از سوی دیگر، بشیر علی مسئول ملی مرکز جمع بندی نتایج به پژواک گفته است که از سوی مولانا عبدالله به وی توهین صورت گرفته است.



Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life
دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـــځ

### د افغانستان په اړه د امریکا د تګلارې یوه دوامداره ستونزه

پـه افغانسـتان کـې د امریـکا د تـګلارې یـوه عمـده او دوامـداره سـتونزه د پوځیانـو او ملکـي حکومـت ترمنـځ د همغـږۍ نشـتون دی. د امریکا پـوځ او بهرنیـو چـارو وزارت ډېـر وخـت د افغانسـتان پـه تـړاو یـوه خولـه نـه وي، چـې د امریـکا د پـوځ د لـوی درسـتیزانو د ګـډې کمېټـې د مـشر جـنرال مـارک میـلي وروسـتۍ څرګندونـې یـې ښـکاره مثـال دی. پـه داسـې حـال کـې چـې د زلمـي خلیلزاد پـه مشرۍ امریکایـي ډیپلوماتانـو یـو کال لـه وسـله والـو طالبانـو سره د جګـړې پـر سـیاسي حـل مذاکـرات وکـړل. جـنرال میـلي پـه یـوه تـازه مرکـه کـې ویـلي چـې پـه افغانسـتان کـې د امریـکا پوځـي ماموریت لا هـم پـای تـه نـه دی رسـېدلی. هغـه زیاتـه کـړې چـې دغـه ماموریـت ښـایي څـو نـور کلونـه هـم دوام وکـړي.

امریـکا لـه یـوه لـوري د افغـان جګـړې د سـیاسي حـل خـبره کـوي او ډیپلوماتـان یـې وایـي چـې دا جګـړه پوځـي حـل نـه لـري، خـو د لـوی درسـتیزانو د کمېټـې مـشر یـې بیا پـه ښـکاره د هغـوی خـلاف دریـځ نیسـي. دغـه کار کـه لـه یـوه لـوري د افغـان جګـړې د پـای تـه رسـولو لپـاره د امریـکا پـر ارادې د شـک سـبب کېـږي او لـه بـل لـوري ښـیي چـې د امریکا دولت هـم د افغـان جګـړې پـه تـړاو واحـد دریـځ نـه لـري. پـه داسـې حـال کـې چـې ولسـمشر ټرمـپ او د امریـکا ډیپلوماتیکـه دسـتګاه لـه افغـان جګـړې سـتړې برېښـي، خـو پوځـي جنرالان لا هـم د جګـړې پـای تـه رسـولو تـه چمتـو نـه ښـکاري.

د امریـکا لـه لـوري د جګـړې او سـولې پـه تـړاو د مخالفـو زېګنالونـو لېـږل، هغـه اندېښـنې پیـاوړې کـوي چـې د واشـنګټن لپـاره لا هـم د جګـړې سـوله ییـز حـل لومړیتـوب نـه دی او ځینـې حکومتـي کـړۍ یـې د جګـړې پـه دوام کـې خپلـې ګټـې لټـوي. د افغانسـتان جګـړه د ځینـو امریکایانـو لپـاره د عایـد پـر سرچینـه بدلـه شـوې او هغـوی د دې سرچینـې وچېـدو تـه نـه دي چمتـو. امریـکا، پـه ځانګـړي ډول ولسـمشر ټرمـپ تـه چـې د یـوه بـل دور ولسـمشرۍ د ګټلـو پـه لټـه کـې دی، پـکار ده چـې پـه افغانسـتان کـې د جګـړې او سـولې پـه اړه روښـانه او واحـد دریـځ ولري او د پوځیانـو د توطیـو ښـکار نـه شي. افغانـان او عـام امریکایـان دواړه د دې ناپایـه جګـړې پـای غـواړي. نـه امریکایـان غـواړي چـې پـه دې جګـړه کـې یـې اولادونـه ووژل شي او پـه لویـه کچـه یـې پیسـې مصرف شي او نـه هـم د افغانانـو لپـاره نـور د ترهګـرۍ خـلاف د مبـارزې پـه نـوم د خپلـو بېګنـاه عزیزانـو وژل کېـدل د زغملـو وړ دي. کـه امریـکا ریښـتیا دې پایلـې تـه رسـېدلې وي چـې افغـان جګـړه پوځـي حـل نـه لـري، نـو لـه پوځـي لارو دې د یـوې سـیاسي سـتونزې د حـل هڅـه نـه کـوي. تـر اوسـه هـم د جګـړې د اوږدېـدو یـو عمـده لامـل پـر ډیپلوماسـۍ د پوځـي ځـواک بـرلاسي ده.

# د هند- افغان پالیسي؛ د راتلونکې سیالۍ نن

لیکنه: محمد سلیم پاینده

هند، ایران، روسیه او ترکیه باید په افغانستان کې د تروریزم پر وړاندې جګړه وکړي؛ د تروریزم پر وړاندې درېدل یوازې د متحده ایالتونو مسوولیت نه دی، زموږ ځواکونه به په بشپړ ډول له افغان خاورې نه وځي، موږ به یو څوک ولرو تر هغه چې د طالبانو د بیا پورته کېدو امکان موجود وي. متحده ایالات له ۷۰۰۰ میله واټن څخه د ترهګرۍ پر وړاندې افغانستان کې جګړه کوي او هند او پاکستان د دروازې مخې ته څه نه کوي.» د ولسمشر ډونالډ ټرمپ دې وینا د هند افغان- پالیسۍ ته د بیا کتنې، ننګونې او ځان لیدنې نوی فصل پرانیستی دی.

امریکا ته طالبان تر هغه چې القاعدې ته یې پناه ورکوله، ستونزه او تهدید نه و، د ۱۱/۹ له پېښې را پدېخوا امریکا په لوړه بیه لګښت ورکوي او د ولسمشر ټرمپ د دغه ټینګار چې هند دې د تروریزم پر وړاندې په افغان جګړه کې مخامخ مرسته وکړي، بنسټیز محور هم همدا د لوړو لګښتونو سکالو ده. اوس پوښتنه دا ده چې د هند پخوانۍ افغان پالیسي د سیمې د نوو پرمختګونو لپاره څه غبرګونونه، بدلونونه او بدیلونه وړاندې کوي؟ هند به په افغانستان کې د خپل نرم ځواک (Soft power) او ستراتیژیک عمق (Strategic deep) ساتلو ته له کومې زاویې دوام ورکوي؟

امریکا د هند په ګډون له پورته هېوادونو غواړي چې په افغانستان کې جګړه وکړي، له هنده غواړي عسکر ولېږي، جګړې ته وسله وپېري، د افغان ځواکونو حربي مهمات چمتو کړي، امریکایي لیدلوری یې یو ستراتیژیک دوران (Strategic Cycle) ګڼي او په باور یې چې که هند د افغان جګړې کرښو ته ستون نه شي، هغوی به کشمیر ته راشي. هندي لوری ټینګار کوي چې له ترهګرۍ سره په مبارزه کې د ټرمپ یا پنټاګون ستاینلک ته اړ نه دی او لا له وړاندې یې د عسکرو لېږل رد کړي. هند افغان ځواکونو ته د هلیکوپټرو، وسلو، جګړهییزو مهماتو، اردو، پولیسو او په ځانګړي ډول د کوماندویانو او پیلوټانو روزنې له لارې د افغان دولت ملاتړ او د افغان جګړې د غیر مستقیم حضور برخوالۍ ته زړه نیسي.

د هند په پالیسۍ کې د طالب، اسلامي دولت او نورو پاکستاني ترهګریزو ډلو تعریف او ځای یو دی؛ ځکه نو د افغان دولت په مشرۍ د سولې له پروسې څخه ملاتړ کوي. د هند په باور، که طالبان له افغان دولت سره د واک په شراکت یا سولې کې نتیجې ته ورسېدل، د اسلامي دولت، حقاني یا ورته جوړښت په متفاوت نوم بله ډله راپورته کوي، څو ستراتیژیک عمق (Strategic deep) او بایللی نفوذ بیا احیا کړي.

هند د افغان سولې او جګړې له روان بهیره د هند ستره اندېښنه د افغان دولت او طالب د غیر متجانس جوړښت وېره ده، هند فکر کوي چې د اساسي قانون او شریعت ترکیب غیر متجانس دی او د طالبانو په راتګ د کورنۍ جګړې (Afghan civil war) اور نه شي درولی. هند اندېښنه لري چې پاکستان هڅه کوي چې د حقاني ډله پر ځای وساتي او یوه برخه د طالبانو د مخالفت او اسلامي دولت بیا سره یو کړي او د هند پر وړاندې یې وکاروي. هند فکر کوي چې متحده ایالات هم د تروریزم پر وړاندې مبارزه کې واحد دریځ نه لري، د متحده ایالاتو ستراتیژیک امنیتي ساختار (Deep State) لکه د مرکزي استخباراتو اداره (CIA) او د دفاع وزارت (Pentagon) له سپیني ماڼۍ سره دوه رنګي لري؛ داسې ښکاري لکه د ولسمشر ټرمپ اداره چې له (Two track presidency) پراخ درځ څخه رنځ وړي.

هند له طالبانو سره چې د هغوی د امارت پر وخت یې هم د ښکاره دښمنۍ اعلان نه و کړی، جدي ستونزه نه لري؛ ځکه نو د اسلامي دولت، القاعدې، لشکر طیبه، جیش محمد او نورو پاکستاني تروریستي ګروپونو رامنځته کول د پاکستان بالقوه عمل ګڼي او امریکا هم له همدې خوږ ګوتې پر هند او سیمې (Regional players) غږ کړی چې د جګړې ډګر ته راستانه شي.

د هند- افغان پالیسي د افغان دولت پر پښو درېدنې، پراختیایي مرستو، پانګونې او سیمه ییز اتصال تمرکز کوي. هند جګړې ته ننوتل نه غواړي، دا د ځان لپاره غمیزه او ضایع ګڼي، فکر کوي چې افغان جګړه شوروي وبایله، امریکا هم نظامي حل نه شي وړاندې کولی او هر بل قدرت هم نه شي کولی په اسانۍ عسکر ولېږي؛ ځکه بیا ترې وتل ډېر ستونزمن وي. د هند د بهرنیو چارو وزیر په خبره، موږ نه پوهېږو طالبان څوک دي، څرنګه جګړې ته ننوځو، هغوی اصلاً افغانان دي او موږ نه غواړو له افغانانو سره جګړه وکړو.

**د هند دریځ**

هند له طالبانو سره د مستقیمې مذاکرې مېز ته نه ځي. که څه هم هند دوه متقاعد ډیپلوماتان د طالبانو د غیر رسمي خبرو اترو لپاره مسکو ته ولېږل.

په هند کې ځینې داخلي کړۍ فکر کوي چې له طالبانو سره پرانیستی ارتباط ولري؛ ځکه هغوی د افغانستان د سیاسي پروسې یوه برخه دي، مګر په رسمي او واضح توګه د هند دولت د افغان حکومت په مشرۍ د سولې د مالکیت ملاتړ کوي. که څه هم طالبانو د هند پر حکومت هېڅکله هم انتقاد نه دی کړی، که دوی د قدرت شریکان ګرځي، هند به وکولی شي خپلو پراختیایي پروګرامونو ته په افغانستان کې دوام ورکړي او طالب + افغان حکومت به هم د هند- افغانستان له ستراتیژیکې ملګرتیا څخه ملاتړ ته دوام ورکوي.

هند به د افغانستان ښه ملګری پاتې کېږي، له افغان دولت سره به د بیارغونې پروسه کې مرسته کوي. د هند پراختیایي پروګرامونو په زرګونو افغان ځوانان له تروریزم څخه را اړولي دي.

هند به په افغانستان کې پانګونې ته دوام ورکوي، تر اوسه یې دلته له دریو بلیون ډالرو زیاته پانګونه کړې ده.

هند غواړي د افغانانو په مشرۍ، کنټرول او مالکیت له هر ډول موضع ګیرۍ ملاتړ وکړي او هر لوبغاړي (Stakeholder) ته د افغان دولت له خوا رول مشخص کېږي.

هند په افغانستان کې پر مشروع، قانوني او ټاکل شوي دولت باندې ټینګار کوي.

هند به د افغان دولت تر څنګ وي او د پاکستان د مداخلې او له تروریزم سره د تقابل پایه به وي.

**ایا هند باید افغانستان ته په نظامي یونیفورم کې ننوځي؟**

که چېرې هند د جګړې کرښې ته ولاړ نه شي، هغوی (تروریستان) به د کشمیر وادي له لارې د هند ملي امنیت وګواښي. د دې پر ځای چې له هغوی (تروریستان) سره پر خپله ځمکنۍ بشپړتیا (Territory) جګړه وکړي، ښه به وي چې هند له هغوی (تروریستان) سره په افغانستان کې وجنګېږي. (د ټرامپ اداره)

هند نه شي کولی ۳۰۰۰ افغان سرتېري هم تمویل کړي، حال دا چې له ۳۰۰۰۰۰ زیات افغان اردو تر دریو ټریلیون ډالرو پورې د جګړې لګښت غواړي؛ ځکه نو هند د افغانستان پراختیا ته فنډ ورکوي او غواړي له دې لارې د افغان ځواکونو لپاره دایمي مالي ملاتړ غښتلی کړي.

هند جګړې ته ننوتل نه غواړي، دا د ځان لپاره غمیزه او ضایع ګڼي، فکر کوي چې افغان جګړه شوروي وبایله، امریکا هم نظامي حل نه شي وړاندې کولی او هر بل قدرت هم نه شي کولی په اسانۍ عسکر ولېږي، ځکه بیا ترې وتل ډېر ستونزمن وي.

**هند څه کولی شي؟**

هند غواړي له افغان نظامي ځواکونو سره مرسته وکړي، هغوی ته وسلې، توپونه او روزنې ورکړي.

هند غواړي له افغان کوماندویانو سره مرستې وکړي او روزنه ورکړي.

د واهان له پروسې (Wuhan Process) وروسته د هند د لومړي وزیر او چیني ولسمشر جین پینګ ترمنځ هوکړه وشوه چې د (Model ۱+China-India) له لارې په افغانستان کې خپلې مرستې او فعالیتونه همغږي کړي.

د چین، هند جمعه یو موډل له لارې دوی توافق کړی چې افغانستان خپل د نفوذ تعادل وساتي، دواړو هېوادونو له دې لارې په مساوي توګه د افغان ډیپلوماتانو د روزنې پروګرامونه پیل کړي، دواړه هېوادونه له همدې تجربې په ګټنه له افغانستان سره امنیتي همکاري کولی شي.

که له هنده وغوښتل شي هم، هند لېوال نه دی چې د سولې په خبرو کې ګډون ولري.

**د نورو هېوادونو دریځونه، ګټې او لاسونه**

متحده ایالات: متحده ایالات د تروریزم پر وړاندې مبارزه کې واحد دریځ نه لري، د متحده ایالاتو ستراتیژیک امنیتي ساختار (Deep State) لکه د مرکزي استخباراتو اداره (CIA) او د دفاع وزارت (Pentagon) له سپیني ماڼۍ سره دوه رنګي لري، داسې ښکاري لکه د ولسمشر ټرمپ اداره چې له (Two track presidency) پراخ درځ رنځ وړي.

پنټاګون د ستراتیژیکو دلایلو په درلودو سره په سیمه کې دایمي پروژه او ګډون غواړي.

یا په بل عبارت، ټرمپ او نور پوپلسټان چې د ټاکنو له سیالیو سره مخ دي، خپل حضور ته له لوړو لګښتونو او ناغوښتلې شوې جګړې څخه برائت ورکول غواړي.

فدراتیفه روسیه: روسیې له وړاندې د خپلو ګټو او دلایلو پر بنسټ له طالبانو سره خبرې پیل کړې.

روسیه د طالبانو سلطه پر رسمیت پېژني او د اسلامي دولت او نړیوال تروریزم پر وړاندې یې ستراتیژیک پوتنشیل تلقي کوي.

په حقیقت کې د روسیې د پالیسۍ ستر او مهم تاثیر لرونکې- پالیسي جوړوونکي پر دې اند دي چې طالبان د اسلامي دولت پر وړاندې د هغوی کارنده ملګري کېدای شي/ دي.

پاکستان: پاکستان د امریکا- طالب جنګیالیو د مستقیمو خبرو اترو او مذاکرې برخوال غږی دی.

پاکستان باور لري چې د امریکا- طالب د سولې له پروسې وروسته چې طالب د قدرت شریک ګرځي، پخوانۍ اجنډا او ایډیالوژي به ونه لري.

پاکستان به د امریکا له وتلو وروسته په افغانستان کې د ناامنۍ عناصر تقویه کړي.

په دې ډول حالاتو کې چین یوازېنی فکټور دی چې پر پاکستان فشار راوړلی شي. چین د (China-Pakistan Economic Corridor) مالي ملاتړی دی، خو هند ته دا لاره چې د چین له زاویې پر پاکستان فشار راوړلی شي، د ستراتیژیک عمق پر زیان ده او هند انګېرې چې چین د پاکستان اوږدمهال ژوند نه شي تضمین کولی، (China is not Pakistan's long-life) نو ځکه پر پاکستان یې اغېز چې د افغانستان په سوله کې مثبت تمام شي، لنډمهاله او ناکافي دی او په دې سره سیمه ییز رقابتونه لا قوي کېدای شي. د هند په اند، چین له افغانستان سره مستقیمې اړیکې لري او پر پاکستان د نفوذ له درکه باید ورته نومرې او کرېډېټ ور نه کړل شي.

ځینې نور خوځښتونه لکه د پښتون ژغورنې خوځښت (PTM- Pashtun Tahafuz Movement) کولی شي د پاکستان افغان پالیسي او سیمه ییزه پالیسي متاثره کړي او په دې سره به د افغان سولې پروسې ته کافي نفس ورکول کېږي.

**افغان سوله، ممکنه نتیجې او له هغه وروسته هند**

په نږدې سبا کې د سولې خبرو تړون له امکانه لرې دی؛ ټرمپ د دوحې خبرې رد کړې او طالبانو د ولسمشر اشرف غني د سولې اووه ماده ییزه طرحه نه ده منلې.

طالبان لا اوس هم پر شریعت او امارتي نظام ټینګار کوي، د واک د شریکېدو او تنوع منلو لېوالتیا نه لري.

که فرض کړو له طالب سره د سولې تړون وشي هم، کورنۍ جګړه به ورسره ختمه نه شي، بلکې لا به شدت ومومي؛ ځکه طالبان به د واک رسمي شریکان وي او د خپل مشروعیت تورم به لا شرنګوي، چې په دې سره به نړۍ له غبرګو ننګونو سره مخ وي؛ طالبان او د اسلامي دولت ډله.

د اسلامي دولت خراسان ډله (IS-K) په منځنۍ ختیځ کې له اسلامي دولت سره اړیکې نه لري، پر هغوی د مشرتابه وژل قوي تاثیر نه شي واردولی.

**اسلامي دولت تر طالب ډېر وحشتناک ډېزاین شوی دی**

اسلامي دولت له پاکستاني طالبانو (Tahrek Taliban Pakistan – TTP) سره نېغ په نېغه اړیکه لري، له طالبانو سره له ممکنه سولې وروسته د اسلامي دولت لیکو ته پاکستاني طالبان، حقاني او یوه برخه د افغان طالبانو چې د هغوی مشرتابه پرې کنټرول نه لري، یو ځای کوي.

دوی به افغانستان د تروریزم پر ځالې واړوي چې دا به جنوبي اسیا او مرکزي اسیا، لکه ازبکستان، تاجکستان او روسیې ته مستقیم خطر و اوسي. د نومبر په ۵مه اسلامي دولت ډلې پر تاجکستان حمله وکړه، غالباً هغوی له کندوز ولایت څخه ور اوښتي وو.

**مخ پر وړاندې اوږده لار**

له طالبانو سره خبرې لنډمهاله پالیسي ده، یوه اړخیزه ده او د سولې- جګړې نور ټول برخه وال باید پکې داخل شي، د بن کنفرانس اشتباه که تکرارېږي، د نوې شخړې زړي شیندل کېږي.

که د افغانستان د سولې خبرې کامیابۍ ته رسول غواړي، لومړی باید اوربند وشي، د تروریزم بهرني تمویل کوونکي باید لاس واخلي او د سیمې د سولې او جګړې د ختم لپاره باید په افغانستان کې له ګټو تېر شي.

هند او د مرکزي اسیا هېوادونه کولی شي د سیمې په سوله کې مرسته وکړي.

نظامي حل وجود نه لري، د افغانستان له دولت سره باید اداري، تخنیکي او د بشري روزنې مرستې وشي، څو د افغانستان په حکومت کې د ریفورم او بدلونونو له لارې د سولې داعیه پر ریښتیا تر منزله ورسېږي.

# دوې ورځې د پایلو تر اعلان پورې؛

## د ټاکنیزو ټیمونو او ټاکنو خپلواک کمېسیون ترمنځ ناندرۍ اوج ته رسېدلې دي



سره له دې چې د لومړنیو پایلو اعلان ته دوې ورځې پاتې دي، د نوماندانو او کمېسیون ترمنځ تازه ناندرۍ پیل شوې دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه پیل کړې ده، خو ځینو نوماندانو او د نوماندانو شورا له دغه بهیر سره پرېکون اعلان کړی دی. تېره ورځ هم ځینو نوماندانو خبري کنفرانسونه لرل او په هغه کې یې تور پورې کړ چې په ټاکنو کې پراخه درغلي شوې ده او کمېسیون باید شفافیت ته ژمن وي. دوی د دویم پړاو ټاکنو د تر سره کېدو او همدا راز د موقت حکومت د جوړېدو وړاندیزونه هم کړي دي.

د شنبې په ورځ د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې د رایو بیاشمېرنه پیل شوه، خو له ورمې ورځې راهیسې ډېرو نوماندانو له دې بهیر سره پرېکون اعلان کړی دی. ورمه ورځ د ثبات او همپالنې ټیم او پرون بیا څو نورو ټاکنیزو ټیمونو خبري کنفرانسونه لرل او دغه بهیر یې غیر قانوني وباله. د سولې او اسلامي عدالت ټاکنیزې ډلې مشر ګلبدین حکمتیار پرون تور پورې کړ چې حاکم ټیم پراخه درغلي کړې ده او د ټاکنو کمېسیون مامورین شفافیت ته ژمن نه دي. د ده په خبره، سلګونه داسې محلونه شته چې په اړه یې هېڅ راز اسناد نشته، خو کمېسیون د هغو رایې باوري کوي او غواړي د یوه خاص نوماند په ګټه یې په حساب کې راولي. د ده په خبره، په اوسنیو موجودو رایو کې ۴۴ سلنه یې باطلې دي چې باید له پاکو رایو بېلې کړل شي.

ګلبدین وایي، په پاکو رایو کې ۱.۲ میلیونه رایې باطلې دي او که دا رایې د ناپاکو رایو له ډلې بېلې‌بېرې، نو د تقلبي رایو شمېره ۴۴ سلنې ته رسېږي. هغه زیاتوي، اوس جنجال د ۳۰۰ زره رایو پر سره دی چې ټول نوماندان هغه غیر قانوني بولي، خو د ولسمشر غني ټاکنیزه ډله یې باوري او پاکې رایې بولي. حکمتیار وایي: ((ټول نوماندان وایي چې دا ۳۰۰ زره رایې باطلې، غیر قانوني او بې بایومټریکه دي، خو د ولسمشر غني ډله یې پاکې بولي، ځکه د ده په ګټه صندوق ته لوېدلې دي. دا رایې یا د ټاکنو تر وخت مخکې او یا وروسته صندوقونو ته په غیر قانوني توګه اچول شوې دي)).

حکمتیار دغه راز وایي چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون باید د رایو شفافیت ته ژمن وي او هغه رایې وشماري چې د ټولو نوماندانو توافق ورباندې موجود وي. حکمتیار دا هم وایي چې د ټاکنو په لومړي پړاو کې هېڅ نوماند بریالی نه دی، نو دویم پړاو ټاکنې دې یو موقت حکومت تر سره کړي. هغه زیاتوي: ((دویم پړاو ټاکنې دې وشي، خو یو موقت حکومت باید دا ټاکنې تر سره کړي. داسې یو حکومت چې مشر یې نوماند نه وي او له کوم نوماند سره خواخوږي ونه لري)).

بل لورته بیا د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو شورا هم د ټاکنو د بحراني کېدو په صورت کې د ملي یووالي حکومت له مشرانو د استعفا غوښتنه کړې. ولسمشرۍ ته نوماند او د دې شورا یوه غړي احمد ضیا مسعود ویلي، دوی غواړي چې په ټاکنو کې درغلي کوونکي کسان عدلي او قضایي ارګانونو ته معرفي شي. مسعود وایي: ((د یو میلیون رایو تقلب چا وکړ، هغه مهال چې یو شخص یو میلیون رایې یا سل زره رایې تقلب کوي، فساد یې کړی او که نه، مجرم دی او که نه، د خلکو د رایو او راتلوونکې غل دی او که نه؟)).

بلخوا د ولسمشریزو ټاکنو نوماند رحمت الله نبیل هم ویلي چې له ۴۴ تر ۴۸ سلنې رایې تقلبي دي او کمېسیون مجبور دی چې یوازې شفافې او پاکې رایې حساب کړي. ده ټینګار کړی چې حکومتي کړۍ هڅه کوي پر کمېسیون فشار راوړي، څو ناپاکې رایې سیستم ته د ننه کړي او د یوه خاص ټیم په ګټه یې وکاروي.

بلخوا یوناما هم په تازه څرګندونو کې ویلي چې د ټاکنو کمېسیون له ننګونو سره مخ دی. د ملګرو ملتونو د مرستندویه دفتر په خبره، ټاکنو کمېسیون د مهالوېش د عملي کولو او ځینو نورو مواردو له اړخه له ننګونو سره مخ دی، خو دوی ژمن دي چې له دغه کمېسیون سره همکاریو ته ادامه ورکړي.

# د پاکستان د استخباراتي ادارې مشر له افغان چارواکو سره پر مهمو مسایلو بحث کړی دی



د پاکستان د استخباراتي ادارې یا آی اېس آی مشر جنرال فیض حمید تېره ورځ د یو پلاوي په مشرۍ کابل ته راغلی دی.

د افغانستان د ملي امنیت شورا ویاند کبیر حقمل پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي، یاد پاکستاني پلاوي په کابل کې د ملي امنیت شورا له سلاکار حمدالله محب سره کتلي دي.

نوموړي زیاته کړې چې په دغه پاکستاني پلاوي کې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت مرستیال سهیل محمود هم شامل دی.

حقمل ویلي، دواړو لورو د افغانستان او پاکستان د اړیکو پر ښه کولو او په پېښور کې د «افغان مارکېټ» پر سر د رامنځته شوې ستونزې د هوارې په موخه، د یوې تخنیکي کمېټې پر جوړولو خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په اسلام اباد کې د افغانستان سفارت په پېښور کې پر افغان مارکېټ د پاکستاني پولیسو د چاپې اچولو په غبرګون کې په پېښور کې خپله کونسلګري وتړله.

یاد پاکستانی پلاوی داسې مهال کابل ته سفر کوي، چې د «ای اېس ای» ادارې روانه میاشت په اسلام اباد کې افغان سفیر احضار کړی و، چې افغان حکومت یې په اړه اندېښنه څرګنده کړې وه.

د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د لړم میاشتې په ۱۳مه په یوه اعلامیه کې د «ای اېس ای» له خوا د افغان سفیر د احضارولو تر څنګ، له نوموړي سره د یادې ادارې د پوځیانو له خوا د ناوړه چلند په اړه اندېښنه څرګنده کړې وه. خو د پاکستان استخباراتي ادارې په هغه هېواد کې د افغان سفیر د احضارېدو او له هغه سره د ناوړه چلند په تړاو څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده، چې روانه میاشت د پاکستان د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې خپلو مامورینو ته د متوجه امنیتي ګواښ په غبرګون کې په اسلام اباد کې افغان شارژدافیر هم احضار کړی و.

تر هغه وروسته په کابل کې د پاکستان سفارت تر نامعلومې نېټې د خپلې کونسلي څانګې د تړل کېدو خبر ورکړ. دغه سفارت د یادې څانګې د تړل کېدو لامل خپلو مامورینو ته متوجه امنیتي ګواښونه بللي وو.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې پر افغان خاوره د پاکستاني ملېشو له خوا د توغندیو ویشتل هم یو له هغو موضوعاتو څخه دي، چې د افغانستان جمهوري ریاست یې د غندلو تر څنګ، د پاکستان له حکومت څخه د بندولو غوښتنه کړې ده.

# عظیمي: په کابل کې د تېلو غیرمعیاري ټانکونو د خلکو ژوند ته جدي ګواښ پېښ کړی دی

پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت ویلي، په کابل کې نږدې ۸۰ سلنه د تېلو ټانکونه غیر معیاري جوړ شوي چې له کبله یې خلکو ته جدي ګواښ پېښ کړی دی.

دا په داسې حال کې ده چې په کابل کې د درېیم مکروریانو ۱۵۱م بلاک تېر کال عبدالحق څلورلارې ته څېرمه د احمدیار د تېلو ټانک د سوځېدو په پایله کې اور واخیست او نهه اپارتمانونه یې ویجاړ شول. په دغه اورلګېدنه کې دری تنه ووژل شول او ۴۶ نور چې ښځې او ماشومان هم پکې وو، ټپیان شول.

اوس د دغه بلاک د رغونې چارې نږدې ۶۰ سلنه بشپړې شوې، خو هغه څه چې د دې سیمې خلک یې اندېښمن کړي، لا هم دلته د تېلو ټانک شتون دی.

د یادې سیمې یوه اوسېدونکې حیات‌الله ویلي، تر کومه چې دغه ټانک پر خپل ځای وي، خلک به



اندېښمن وي.

هغه زیاته کړې: «د دې ډول پېښو د مخنیوي په خاطر باید د تېلو ټانکونه د خلکو له کورونو نږدې ۵۰۰ متره فاصله ولري، مګر متأسفانه زموږ په هېواد کې دې ټکي ته پام نه کېږي، که د تېلو ټانکونه معیاري وي، دا ډول پېښې نه کېږي، دلته د اورلګېدنې په پېښه کې خلک ټپیان او ووژل شول».

د کابل ښار بل اوسېدونکي محمدالله هم ورته اندېښنه ښودلې او زیاته کړې یې ده چې په ښار کې ډېری د تېلو ټانکونه د خلکو له کورونو سره نږدې دي او باید د فعالیت مخه یې ونیول شي.


په ورته وخت کې پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت ویاند احمد تمیم عظیمي ویلي، د دغه وزارت څېړنې چې د روان کال له پیله تر اوسه یې کړې، ښیي چې یوازې په کابل ولایت کې نږدې ۸۰ په سلو کې د تېلو ټانکونه غیر معیاري دي.

هغه زیاته کړې: «موږ توانېدلي یو چې ۲۴۶ د تېلو ټانکونه تر څېړنې لاندې ونیسو، زموږ د محاسبې له مخې په دې کې ۸۰ سلنه یې غیر معیاري دي، موږ ونه غوښتل چې په لومړي ګام کې د دوی جوازونه لغوه کړو، بلکې معیارونه مو ورته وړاندیز کړل او وخت مو ورکړ».

عظیمي ویلي، د تېلو یادو ټانکونو ته د ۱۳۹۹ لمریز د حوت تر میاشتې وخت ورکړل شوی چې خپل کارونه معیاري کړي، که نه د فعالیت جواز به ترې واخیستل شي.

# له پیاوړو قدرتونو سره پر تړون سربېره؛

# ایران په بوشهر کې د دویمې اټومي بټۍ د جوړولو کار پیل کړی دی



په داسې حال کې چې د نړۍ له سترو قدرتونو سره د ایران د اټومي پروګرام پر سر لانجه نوي پړاو ته داخله شوې، تهران په بوشهر کې د دویمې اټومي بټۍ د جوړولو کار پیل کړی دی.

د ایران دولتي ټلوېزیون او نورو رسنیو د دغه هېواد د اټومي انرژۍ د ادارې د مشر په حواله ویلي، چې د دغې بټۍ په جوړولو سره به چې د روسي انجنیرانو په مرسته جوړېږي، د ایران اټومي تاسیسات لاپراختیا ومومي.

په ورته وخت کې په بوشهر کې د اټومي انرژۍ لومړني تاسیسات چې د روسیې د اټومي ټکنالوژۍ په مرسته په ۲۰۱۱ ز کال بشپړ شوي، د نړیوالې اټومي انرژۍ د ادارې له خوا په کلکه څارل کېږي.

تهران ویلي، د بوشهر دویمه اټومي بټۍ او درېیم رېکټور به چې د جوړولو پلان یې ترتیب شوی، هر یو به یې د زر مېګا واټه برېښنا د تولید ظرفیت ولري.

د ایران د اټومي انرژۍ د ادارې مشر علي اکبر صالحي د بوشهر د دویمې اټومي بټۍ د جوړېدو د رسمي بهیر د پیلېدو په مراسمو کې چې تصویرونه یې د ایران له دولتي ټلوېزیونه خپرېدل، وویل، اټومي قدرت داسې بااعتباره برېښنا تولیدوي چې د هرې دستګاه د تولیدېدونکې برېښنا اندازه یې له ۱۱ میلیونه بېرله تېلو سره چې ارزښت یې په کال کې ۶۰۰ میلیون ډالره کېږي، برابره ده.

صالحي ټینګار کړی چې اټومي صنعت د قدرت بالقوه سرچینه ده.

تهران په داسې حال کې په بوشهر کې د دویمې اټومي بټۍ د جوړولو د پیلېدو خبر ورکوي چې د نړۍ له قدرتونو سره یې د اټومي پروګرام پر سر لانجه یوې نوې مرحلې ته داخله شوې ده.

تهران په دې وروستیو کې په تدریجي ډول وروسته له هغې د نړۍ له سترو قدرتونو سره د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون له ژمنو په شا کېږي، چې واشنګټن د ۲۰۱۸ ز کال په مې کې له دغه تړون ووت او پر تهران یې بېرته سخت اقتصادي بندیزونه ولګول.

تهران له دې مخکې تر ځمکې لاندې په فوردو اټومي تاسیساتو کې د یورانیمو د غني کولو او تولید د پیلېدو خبر هم ورکړی و.

تهران د اټومي تړون نور اروپایي لاسلیک کوونکي، فرانسه، برېټانیا او جرمني تورنوي چې په دې موده کې نه دي توانېدلي څو هغه زیانونه جبران کړي کوم چې د امریکا بندیزونو د ایران اقتصاد ته رسولي دي.

د ایران د اټومي انرژۍ د ادارې مشر صالحي یوځل بیا پر نړیوالو قدرتونو نیوکه کړې او ویلي یې دي چې دا دوی نه وو چې د نړۍ له قدرتونو سره د اټومي تړون په چوکاټ کې یې کړې ژمنې تر پښو لاندې کړې، بلکې لوېدیځ قدرتونه پر خپلو ژمنو ونه درېدل.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

## د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### اووم څپرکی
### بد نصیب بلوچستان




په ۲۰۰۷ ز کال په افغانستان او پاکستان کې لوېدیځو ډیپلوماټانو دا پایله په ډاګه کړه چې د پاکستان پوځي استخبارات غواړي، یو ځل بیا په افغانستان کې طالبان واکمن کړي. پاکستان لا هم خپلې هغې ستراتیژۍ ته ژمن و چې له مخې یې نه غوښتل هند په افغانستان کې د پښې اېښودلو ځای پیدا کړي. د هند پرمختګ ته تل پاکستاني جنرالانو د شک د سناریو په سترګه کتل. د پښتنو په سیمو کې افراطیت له هند سره د جګړې او مقابلې یوه اسانه او ارزانه لار ده. کومو طالبانو چې غوښتل له کابل حکومت سره نږدې شي له ګواښونو سره مخ کېدل. د نیویارک ټایمز خبریالې، کیرلوټه ګال چې ډېر وخت یې له افغانستان او پاکستان څخه راپوروونه خپاره کړي وو، په بلوچستان کې د طالبانو له ډېرو پخوانیو مشرانو او پښتنو مشرانو سره مرکې کړې وې. هغوی ورته ویلي وو، کوم طالبان چې د افغانستان حکومت ته ځان نږدې کوي له ګواښ سره مخ دي، خو کوم چې له پاکستان سره ښې اړیکې لري، کومه ستونزه نه لري، ځکه نو په ۲۰۱۰ ز کال د پاکستان په سویلي ښار کراچۍ کې د طالبانو نظامي مشر ملابرادر د پاکستان حکومت ونیوه.

د طالبانو په جګړه کې له پاکستان څخه هم داوطلبه کسانو په ځانګړې توګه د بلوچستان پښتنو ونډه اخیسته. له پښین ولسوالۍ څخه ډېر کسان له طالبانو سره یو ځای شوي وو. په دې کار کې جمعیت علماء اسلام ګوند او د پاکستان پوځ هم ډېره همکاري کوله. د بېلګې په توګه، عزیز الله اغا له کربلا کلي را پورته، له طالبانو سره یو ځای شو او بیا یې د طالبانو په منځ کې هم ښه ځای پیدا کړ. کله چې هغه د ۲۰۰٦ ز کال په مې کې د امریکا په هوایي برید کې ووژل شو، پر ځای یې د هغه ورور نصیب الله اغا وګمارل شو. عزیز الله اغا د وژلو پر مهال لا پنځه ویشت کلن و. د هغه په جنازه کې پر زرګونو کسانو سربېره د جمعیت ګوند ولایتي وزیرانو هم ګډون کړی و. نصیب الله اغا هم له طالبانو سره د جنګیالیو په جلب او جذب کې هڅې پیل کړې. جذب شوي طالبان به جګړې ته تلل، ډېری وختونه به یې مور او پلار ته یوازې جسدونه ور وړل کېدل. ځینې وختونه به د دې ځوانانو کورنۍ د طالبانو د تبلیغاتو د هغو وېډیوګانو له لارې خبرېدې چې تر ځانمرګي برید وړاندې به یې خبرې کولې او بیا به یې ځانمرګی برید کاوه. د بلوچستان ورځپاڼې به په افغانستان کې د وژل شوو کسانو د جنازې خبرتیاوې هم خپرولې. طالبان تر ډېره د بلوچستان پر پښتون مېشتو سیمو کې اوسېدل. د بلوچستان په سویل کې د چاغي ولسوالۍ چې ډېری اوسېدونکي یې بلوڅان دي، د افغانستان له سویلي ولایت هلمند سره پوله لري. دا ولسوالي له ایران سره هم پوله لري او د پاکستان، افغانستان او ایران پر سرحد کې پرته ده. دلته ډېری د نشه یي توکو قاچاق وړونکي اوسېږي. بارامچه چې د هلمند په خاوره کې له چاغي ولسوالۍ سره نږدې پروت وړوکی ښارګوټی دی، له کلونو د طالبانو په کنټرول کې دی. دلته پر ماینونو سربېره طالب یاغیانو ته روزنه هم ورکول کېده، له همدې ځایه به یې پر سویلي ولایتونو بریدونه هم کول.


په بارامچه کې مېشت طالبان د کوېټې شورا له لورې کنټرولېدل. د طالب ټپیانو درملنه به د چاغي ولسوالۍ په یوه ښارګوټي، ډالبندین کې کېده، خو مهم کسان یې ټول د درملنې لپاره کوېټې ته بېول. په کوېټه کې د نوو کلیو نومونه د طالبانو د قومونو له نومونو سره وتړل شول. د بېلګې په توګه؛ اسحق زی کالوني، علیزی کالوني، دا هغه ځایونه وو چې پکې ډېری د طالبانو د تش په نوم حکومت مهم قومندانان او مشران مېشت وو. هغوی به کله ناکله په ودونو او نورو ټولنیزو مراسمو کې هم ګډون کاوه. د بلوچستان روغتونونه د طالبانو د درملنې لپاره امن ځایونه وو، ډېر شمېر نور طالبان په کچلاک کې هم اوسېدل. هغوی به د توی اڅکزي د غرونو له لارې کندهار ته ننوتل، دا هغه ځای و چې په ۲۰۱۰ ز کال د امریکایي ځواکونو له عملیاتو سره هم ونه ساتل شو. د کوېټې شمال لور ته په ۲۰۰ کیلومترۍ کې د پښتنو له یوه بل ښارګوټي، قلعه سیف الله، له همدې ځایه هم طالبان د توبه کاکړ پر لارو افغانستان ته ننوتل. دا هم ستونزمنه ده، سړی ادعا وکړي چې پاکستان په ټولیزه توګه پر طالبانو کنټرول لاره، خو په بلوچستان کې له رسنیو سره د طالب مشرانو او سرتېرو له مرکو په ډاګه څرګندېده چې د پاکستان څارګرو پرې اړین کنټرول لاره. دې یاغیانو ته نه یوازې ځای ورکړل شوی و، بلکې اسلام‌اباد د هغوی د جګړې د ملاتړ لپاره په پراخ لاس پیسې هم ورکولې. طالبان پوهېدل چې د هغوی ژوند د پاکستان د مشرانو په خوشاله ساتلو پورې تړلی و. د طالبانو د حکومت د کابینې یوه پخواني وزیر نیوزویک ته ویلي وو: ((دا ویښوونکې نه ده وواېو، ISI موږ ټول په یوه ورځ نیولای شي. موږ د پسونو د رمې په څېر یو، هر کله چې پاکستان وغواړي موږ ایسارولای شي.))

طالبانو شک لاره چې پاکستان به ناټو ته د ملا اخترمحمد عثماني او ملا دادالله په ورښودلو کې همکاري کړې وي. هغوی دواړه د افغانستان په سویل کې په ۲۰۰٦ او ۲۰۰۷ ز کلونو کې ووژل شول. عثماني له کوېټې ښار څخه د پاکستان د یوې چاپې له وېرې تښتېدلی و. طالب مشران به نیول کېدل له پوښتنو او خبرو وروسته به، پاکستان ته د وفادارۍ په بدل کې خوشي کېدل. په دې لړۍ کې د طالبانو د نظامي مشر، عبدالقیوم ذاکر په ګډون، ډېر نور هم ونیول او بېرته خوشي شول. د ۲۰۱۰ ز کال په فبروري کې پاکستان د طالبانو یو نظامي قومندان ملا عبدالغني برادر هم ونیوه. د ذاکر په شمول نور ټول وروسته له هغه له زندانه خوشي شول چې د پاکستان موخو ته یې د وفادارۍ ژمنتیاوې وسپارلې.

**دوام لري...**

# ګالیله

◀ عطامحمد میاخېل



پوره نوم یې ګالیلیو ګالیله ( Galileo Galilei ) دی، چې د ۱۵٦۴ ز کال د فبروري په ۱۵مه د جمعې په ورځ د ایټالیا د پیزا ښار اړوند د توسکاني په سیمه کې دې نړۍ ته راغلی دی. مور یې جولیا ګالیلي او پلار یې وینچنزو ګالیله (Vincenzo Galilei) نومېد، چې یو مشهور موسیقي پوه و او خپل زوی ته یې هم موسیقي ور زده کړې وه. ګالیله د دې کورنۍ وروستی زوی و او پنځه خویندې او وروڼه یې هم لرل .

ګالیله تر یوولس کلنۍ پورې په کور کې د خپل پلار تر نظر لاندې ژوند وکړ. پلار یې هغه ته یو خصوصي ښوونکی نیولی و. ګالیله ډېر پوه، هوښیار او ځیرک ماشوم و، له درس وروسته به د څېړنې او پلټنې په موخه په ښار کې شاوخوا ګرځېده.

په ۱۵۷۵ ز کال د ګالیله کورنۍ د فرانسې ستر ښار فلورانس ته لاړه، چې د پاریس په ختیځ کې پروت ښار دی. هغه مهال د فلورانس ښار د زده کړې او روڼ اندۍ تر ټولو مهم مرکز ګڼل کېده، له دې وروسته یې پلار هغه د والومبروسا ښار ته نږدې یوې مذهبي مدرسې ته ولېږه.

په لومړیو کې ګالیله غوښتل چې کشیش شي، خو په ۱۵۸۱ ز کال چې اوولس کلن و، د ده د خوښې پر خلاف او د پلار په پرله پسې غوښتنه یې د پیزا پوهنتون د طب په برخه کې زده کړې پیل کړې. طب یې زده نه کړ، خو پر ځای یې د ریاضیاتو مطالعه پیل کړه، هغې ته لېوال شو او په دوامداره توګه به د پیاوړي ریاضي پوه استېلوریچي صنفونو ته ورتلو او د خپلې محصلۍ په دوران کې یې د ارسطو نظریې رد او وې ویل : «ارسطو یوازې خپل افکار بیان کړي او له علمي تجربو څخه یې ګټه نه ده اخیستې. له همدې امله یې ځانته ډېر دښمنان پیدا کړل» .

ګالیله په ۱۵۸۳ ز کال کې پر رسۍ باندې خپلې څېړنې تر سره کړې. د کلیسا په مذهبي مراسمو کې یې پر یوه ځلوېښت څراغه قندیل (چهل چراغ) سترګې ولګېدې، چې په سر پورې یې ځوړند او ښورېده. یاد څراغ د ده پام ځانته ور واړاوه. هغه د ارزونې پر مهال په دې اړه له ځان سره فکر وکړ او وې ویل: «که هرڅومره د هر خوځښت(حرکت) لمنه را لنډېږي، خو بیا هم د خوځښت وخت ثابت پاتې کېږي». کېدای شي ډېری کسانو په دې کتنه کې داسې خاص څه نه وای پیدا کړي، خو ګالیله له ځیرک، څېړونکي او هوښیار روح څخه برخمن و. نوموړي له هغې شېبې څخه خپل علمي ازمېښتونه پیل کړل، په دې ترتیب چې د رسۍ په دواړو خواوو کې یې وزنونه وتړل او له یوه لوړ ځای څخه یې را ځوړند، یوې او بلې خواته یې حرکت ورکړ. په هغه وخت کې د اوس په څېر دقیق ساعتونه نه وو چې عقربې یې ثانیې او دقیقې وشمېرې، نو له همدې امله ګالیله د ځوړندو خوځېدونکو وزنونو د وخت د اندازه ګیرۍ لپاره د خپل نبض له وهلو ګټه اخیسته. هغه دې پایلې ته ورسېد چې د پیزا په لویه کلیسا کې یې ارزونې او کتنې سمې دي. که څه هم هر ځل د خوځښت لمنه را لنډېږي، خو هر خوځښت د تېرو خوځښتونو په څېر، ورته وخت په بر کې نیسي او په دې ترتیب ګالیله د رسۍ قانون کشف کړ.

نن ورځ د ګالیله د رسۍ له قانونه په بېلابېلو چارو کې ګټه اخیستل کېږي. د بېلګې په توګه، د ستورو حرکتونو د اندازه ګیرۍ لپاره له دې قانون څخه کار اخیستل کېږي. د رسۍ په اړه د هغه ازمېښتونه د نوي ډینامیک فزیک پیل و، هغه غبرګون چې د حرکت قوانین او هغه ځواکونه چې د حرکت سبب ګرځي، ټول رانغاړي.

ګالیله په ۱۵۸۵ ز کال چې عمر یې ۲۱ کاله و، پرته له دې چې د پوهنتون سند تر لاسه کړي؛ پوهنتون یې پرېښود. په ۱۵۸٦ ز کال کې یې د (تعادل) په نامه یو کتاب ولیکه، چې د نړیوالو پوهانو د پام وړ وګرځېد او نوموړی یې د یوه ریاضي پوه په توګه مشهور کړ.

په ۱۵۸۹ ز کال کې چې ۲۵ کلن و، د خپلو بانفوذه دوستانو په مرسته یې د پیزا په پوهنتون کې زده کړې پیل کړې. هغه مهال ریاضیاتو ته چا ارزښت نه ورکاوه او د علم تر ټولو په ټیټه کچه کې واقع وو. حقوق او طب په علمي لحاظ په ډېره لوړه سطحه کې واقع او د ریاضیاتو په پرتله یې دوولس برابره زیات ارزښت درلود. دغه راز هغه خپل د ارسطو ضد افکار وساتل، مګر دا ځل دې افکارو ورته سر خوږی جوړ کړ. په ۱۵۹۱ ز کال کې یې خپل دویم ستر علمي کشف وکړ. د ګالیله په دوران کې ډېری علوم د ستر یوناني فیلسوف ارسطو، چې له میلاد څخه مخکې په څلورمه پېړۍ کې یې ژوند کاوه، د فرضیو پر بنسټ بنا شوي وو.

د ګالیله د زده کړو پر مهال په ټولو علومو کې د سرچینې په توګه د ارسطو اغېز تر سترګو کېده؛ هر چا چې د ارسطو له قوانینو پر یوه قانون شک کاوه، نو بشپړ او پوه انسان نه بلل کېده. د ارسطو له قوانینو یو قانون، چې بیان شوی و، داسې و چې هغه پکې ادعا کړې وه، چې درانه اجسام د سبکو په پرتله ژر او په چټک ډول را غورځېږي. ګالیله ادعا کوله چې دا قاعده سمه نه ده. ویل کېږي چې ګالیله د دې تېروتنې د اثبات لپاره د پیزا پوهنتون استادان را وبلل، څو له هغه سره د پیزا برج لوړ پوړ ته وخېژي. ګالیله دوه توپونه چې د یوه وزن یې پنځه کیلو او د بل یې نیمه کیلو و، له ځان سره واخیستل او دواړه یې د پیزا برج له لوړې برخې په یوه وخت ښکته را وغورځول؛ ټولو حاضرینو په دې صحنه کې وکتل، چې دواړه توپونه په یوه وخت ځمکې ته را ورسېدل. ګالیله پر زده کړو بوخت و، ناڅاپه داسې آوازه خپره شوه چې په سویس کې د عدسیو له ترکیب څخه داسې یوه آله جوړه شوې، چې په مرسته یې د ډېرې لرې سیمې شیان هم لیدل کېږي. له دې موضوع بشپړ معلومات په لاس کې نشته، خو دا ډېره مشهوره خبره ده، چې د زاخاري یانسن په نامه یو کس، چې په مدلبورک کې یې عینکې جوړولې، لومړنی دوربین یې د ۱۵۹۰ او ۱٦۰٦ ز کلونو په منځ کې جوړ کړی و، مګر د هانس ییرشي په نامه بل عینکې جوړونکی په ډېرې چالاکۍ د زاخاري یانسن اختراع تري غلا کوي او په ۱٦۰۸ ز کال کې یې امتیاز په خپل نامه ثبتوي. ګالیله هم د ورته دوربین پر جوړولو بریالی شو .

ګالیله د خپل تلسکوپ په مرسته داسې منظرې ولیدلې، چې تر هغه وخته هېچا نه وې لیدلې. ګالیله د ارسطو د نظریې پر خلاف، چې ویل یې سپوږمۍ پاکه او هواره ده، دا ثابته کړه چې سپوږمۍ د غرونو، لوړو ژورو او درو لرونکې ده، چې د لمر رڼا یې لاپسې ښایسته کوي. پر دې سربېره یې دا هم وکتل چې د مشتري سیارې شاوخوا څلور کوچنۍ سپوږمۍ په حرکت کې دي او بالاخره یې د لمر پر مخ باندې تور ټکي په خپلو سترګو ولیدل. ګالیله د دې هرڅه پایلې په ۱٦۱۰ ز کال (د ستورو پیغام راوړونکي) په نوم کتاب کې خپرې کړې، چې نه یوازې د خلکو له هرکلي سره مخ نه شوې، بلکې خلکو پر ده باندې سختې او توندې نیوکې وکړې او له ده څخه یې پوښتنې کولې، چې ولې د ستورو شمېر اووه نه ګڼي؛ په داسې حال کې چې د فلزاتو شمېر اووه دی او د معبد شمعدانونه هم اووه ښاخونه لري.

ګالیله د دې ټولو پوښتنو په ځواب کې یوازې دومره ویل چې په خپلو سترګو یې په دوربین کې وګورئ، څو مو شک له منځه لاړ شي او پر خبرو یې یقین وکړئ. له دې وروسته ګالیله فلورانس ته لاړ، څو د ګرانددوک په پوهنتون کې استادي وکړي .

ګالیله د علمي تګلارې او ارزونې په برخه کې ډېر مهم رول درلود. د ګالیله په باور، د شپاړسمې پېړۍ په پیل کې د رنسانس تر ټولو پیاوړی پوه د علم پېژندنې له وسایلو پرته نه شي کولای، چې علم تر لاسه کړي. همدا راز هغه پر دې باور و، چې د علم پېژندنې لپاره باید د ګومان کولو پر ځای هرڅه اندازه او و ارزوو. هغه څه چې نه اندازه کېږي، باید هڅه وکړو چې د اندازه کولو وړ یې وګرځوو. هغه دغه راز زیاته کړه : (د طبیعت قانون یوازې په مادي ژبه لیکل شوی دی ). علمي تګلاره د یوې نوې او تازه نړۍ د کشف په لوري د بشر یو ستر او بنسټیز ګام و او د علمي او فني انقلاب او اختراعاتو لپاره یې یوه نوې لاره پرانیسته.

په ۱٦۱۰ ز کال کې د ګالیله علمي څېړنې خپرې شوې، په دې څېړنو کې د کوپرنیک هغه نظر تایید شوی، چې هغه ویلي وو، ځمکه د لمر شاوخوا ګرځي، دا خبره د دې لامل شوه، چې نوموړی د کلیسا له خوا پوښتنو ګروېږنو ته راوبلل شي. دا نظریه د هغه وخت له مقدس کتاب سره په ټکر کې وه او له بلې خوا د ارسطو له نظریاتو سره، چې کلیسا یې حامي وه، همغږې نه لرله، نو له دې امله نوموړی اړ شو چې لاندې توبه لیک، لاسلیک کړي :

«د خپل ژوند په اویا کلنۍ کې ستاسو پر وړاندې پر ګونډو شوم او په داسې حال کې چې مقدس کتاب زما پر وړاندې اېښی دی او پر هغه کتاب باندې لاس ږدم او توبه کوم او د ځمکې د حرکت له حقیقته لرې او تشې ادعا څخه انکار کوم او دا ادعا ناسمه ګڼم» .

ګالیله په فزیک، نجوم، ریاضیاتو او فلسفه کې عالم سړی و. هغه د علمي تحولاتو یا د داسې مهال عالم و، چې اروپایي انسان ورو ورو له تیارو رڼا ته مخه کړې وه. له ده سره ډېرو عالمانو ډېر نظریات نه منل، ځکه اروپا نوی نوی رنسانس ته ګام اېښود او ترخې تجربې یې هېرولې. ګالیله له دې امله ډېر مشهور شو چې د کوپرنیک نظریه یې تایید کړه. کوپرنیک تر ده لږ وړاندې ویلي وو، چې لمر تر ځمکه نه؛ بلکې ځمکه تر لمر راګرځي. ګالیله هم همدا نظر تایید کړ. دا مسئله د عیسویانو د کلونو له باور او عقیدې سره په ټکر کې وه، ځکه دوی د خپلو مقدسو کتابونو په اساس باوري وو، چې لمر تر ځمکه راګرځي، نو دې مسئلې د کلیسا غبرګون را وپاراوه. که ده توبه نه وی کړې، نو کلیسا داسې پرېکړه کوله چې دی باید ژوندی په اور وسېځي. د ګالیله بل ستر کار دا و، چې تلسکوب یې اختراع کړ او د ستورو په اړه یې څېړنې پیل کړې. دی بریالی شو چې د سپوږمۍ د سطحې جزیات مطالعه کړي او له خلکو سره یې شریک کړي. ده په هغه وخت کې دا فکر کاوه، چې د جسم د حرکت لپاره یوې قوې ته اړتیا ده، خو وروسته یې د دغې نظریې د رد لپاره په تجربو لاس پورې کړ، چې بیا دا مسئله د نیوټن لومړی قانون شو.

ګالیله په ۱٦۳۷ ز کال کې د سترګو له کمزورۍ سره مخ شو او ورو ورو یې د لیدلو ځواک کمزوری او پر خپل ځای یې نور کسان وګومارل، څو د پېښو په اړه خپلې څېړنې تر سره کړي. ګالیله ورو ورو کمزوری کېده، تر دې چې د ۱٦۴۲ ز کال د جنوري په اتمه نېټه داسې مهال چې ویده و، له دې نړۍ سره یې د تل لپاره مخه ښه وکړه او په ابدي خوب ویده شو.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦,۱۰ |
| Rp. | ٤۹۸ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# پنځه هغه نښې چې وايي، تاسې مرستیال ته اړتیا لری

ژباړه: امان الله «حنیفي»

ټول انسانان په بېلابېلو دلایلو د نورو مرستې او کومک ته اړتیا لري. له دې اړتیاوو کولای شو په دنده او کار کې د بل مرستې هغې ته یې اشاره وکړو. تر ډېره دا ډول اړتیاوې ډېرې پېچلې وي او ښايي له ځان سره نوي مسوولیتونه هم ولري. کله چې دې دندې او کار پر مهال د بل چا مرستې ته اړتیا پیدا کېږي، دا وخت تر هرڅه ډېر ستونزمن د هغه قېمت پرې کول وي. کېدای شي له نورو مرسته غوښتل یا د خپلو مخکنیو ځینو مسوولیتونو سپارل بل کس ته، چې مخکې مو هم ورسره کار کړی وي، تاسې ته یو څه گران تمام شي. خو مهمه او اصلي پوښتنه چې دلته کېږي او ډېری وخت یې ډېری کسان له ځان څخه نه پوښتي، دا ده چې: «که د خپلو ځینو کارونو د تر سره کولو لپاره یو بل مرستیال ونه لری، دا به درته په څومره زیان تمام شي؟»

موږ په همدې مقاله کې د هغو نښو نښانو په اړه خبرې کوو، چې وايي، تاسې په خپل کار او دنده کې بل مرستیال یا داسې یو کس ته هم اړتیا لری، چې د کارونو ځینې برخې مو هغه ته وسپاری. همدا مقاله تر پایه ولولئ.

کله چې له دې هرې یوې نښې نښانې سره مخ شوی، مانا یې دا ده چې تاسې د خپلو کارونو په سم سرته رسولو کې بل کس ته هم اړتیا لری. خو له دې سره سره که بیا هم د مرستیال له گومارلو وېرېږی، دې نښو نښانو ته پام وکړئ:

**۱ـ د خدمتونو او محصولاتو په وړاندې کولو کې نیمگړتیاوې**

کله چې د کار کولو په چاپېریال کې له تاسې ډېرې تېروتنې او خطاوې کېږي یا د مهمو کارونو د سرته رسولو فرصتونه له لاسه ورکوی، مانا یې دا ده چې تاسې بل مرستیال ته اړتیا لری. ځینې وخت



دا تېروتنې د مسوولیت نه احساسولو له امله هم رامنځ ته کېږي او د مسوولیت نه احساس هغه وخت منځ ته راځي، چې تاسې د کار او دندې پر مهال یو وېښ ملگری ونه لری. که تاسې ښه او وړ کاري ملگری ولری، نه دا چې تاسې به مو شته مسوولیتونه په ښه ډول سرته ورسوی، بلکې د نورو کاري ټیمونو په پرتله به د کاري شرکت پر فضا ښه اغېز وکړی.

**۲- د کاري ټیم، مشتریانو او یا هم شریک ناخوښي**

هغه کسان چې ستاسې شاوخوا کار کوي، کولای شي تاسې ته په اسانۍ سره دا وښيي چې تاسې د خپلو چارو د ښه سرته رسولو لپاره بل مرستیال ته ضرورت لری. کېدای شي هغوی له دې هم اندېښنه ولري، چې تاسې به په دې اړه د هو ځواب ور کړی او که دې نه. که تاسې ته د هغوی له خوا دا خبره وهم نه شي، تاسې په مجموع کې خپله کاري فضا و ارزوئ، که مو دا احساس کړه چې کاري ملگري او یا د کاروبار شریک مو له تاسې ناخوښ دی، د جبران لپاره یې یو ښه مرستیال وټاکئ، څو تاسې ته وښیي چې ستاسې کومې کړنې د هغوی د ناخوښۍ لامل شوې دي.

**۳- ستاسې کمپیوټر او برېښنالیک**

ستاسې کمپیوټر څنگه دی؟ ایا د کاري دفتر اړوند مهم فایلونه مو د سکرین پر مخ تیت او پرک اچولي دي؟ ستاسې برېښنالیک څنگه؟ څومره ایمیلونه لا هم تاسې ته بې ځوابه پراته دي، چې تر اوسه مو هېڅ یوه ته هم ځواب نه دی ورکړی او ستاسې د ځواب تمه کوي؟ دا ټول موارد د دې ښکارندویي کوي چې تاسې د یو ښه او وړ کس مرستیال گومارلو ته اړتیا لری. کله چې تاسې ښه او فعال کاري مرستیال ملگری ولری، تاسې د کارونو په ښه تر سره کولو سربېره نظم او ډیسپلین ته هم هڅوي. ارواپوهان وايي، نظم او ډیسپلین د بریالي ژوند لومړۍ کړۍ ده چې وروسته نورې کړۍ ورپورې بندېږي.

**۴- ستاسې دنده او کار**

اوس یو څه وسیع او پراخ فکر وکړئ، کېدای شي د خپل پخواني کسب و کار او یا هم مخکنیو مشتریانو د له لاسه ورکولو په حال کې یاستی. که همداسې وي، بیا هم په ټینگار او تاکید سره وایو چې تاسې د یو مرستیال گومارلو ته اړتیا لری. په دې کار سره کولای شی تاسې په خپلو کارونو کې ښېرته نظم راولی او هغه مشتریان یا پخوانۍ دنده او کار مو چې له لاسه ورکړي دي، ښېرته لاس ته راوړی.

**۵- ستاسې باور او محبوبیت**

کله چې په کار او دنده کې د یو ښه مرستیال گومارلو پر وخت، هغه ونه گوماری، ممکن په کاري چاپېریال او د همکارانو ترمنځ مو خپل پیدا کړی باور او محبوبیت له لاسه ورکړی. هغه کسان چې تاسې ورسره سروکار لری، که یې اړتیاوو ته توجه ونه کړی او د هغو په له منځه وړلو کې تر خپلې وسې ورسره مرسته ونه کړی، هغه ده چې بیا پر تاسې باور نه کوي او تاسې ته د یو جدي او په خپلو چارو کې د یو ځیرک همکار په سترگه نه گوري. هڅه وکړئ چې خپلې ورځنۍ چارې په ښه ډول سرته ورسوی او تر څنگ یې له خپلو همکارانو سره هم مرسته وکړی.

ښه خبره دا ده چې هر وخت له خپلو همکارانو سره خپلو کړو وړو ته توجه وکړئ او هغه اعتبار او باور چې د هغوی پر وړاندې یې لری، له لاسه ورنه کړی. کېدای شي د یوه ښه او وړ مرستیال په گومارلو سره وکړای شی، خپل وخت وسپموی او له خپلو همکارانو سر پر اړیکو بیا فکر وکړی. نو مهمه ده چې په کاري چاپېریال کې خپل اعتبار او باور وساتی.

**مهم ټکی**

که تاسې د یوې ډلې یا گروپ مدیریت پر غاړه لری، رښتیا درته وایم چې که تاسې خپله کاري ډله وهڅوی، هېڅ وخت به د نوي کار کوونکي گومارلو ته اړتیا پیدا نه کړی. د دې کار د تر سره کولو لپاره بېلابېلې لارې چارې لکه په گډه د پلان جوړول، د کار کوونکو تر منځ د مسوولیت وېش او د ځینو کسانو پر ځای د هغوی کارونه مخ ته بېول اغېزمنې تمامېدای شي.

**اخري خبره**

پورت نښو نښانو ته په کتو او د یو ښه مرستیال په گومارلو سره کولای شی خپله دنده او کار په ښه ډول مخ ته یوسی او په دې ډول سره ځان له خطره وساتی.

## مارک میلي: امریکایي ځواکونه به څو کاله نور هم په افغانستان کې پاتې شي

د امریکا د پوځ لوی درستیز جنرال مارک میلي ویلي، ځواکونه به یې څو کاله نور هم په افغانستان کې پاتې وي.

میلي د امریکا له اې بي سي ټلوېزیون سره په ځانگړې مرکه کې له امریکا څخه بهر د امریکايي عسکرو پر شتون او د ترهگرۍ پر ضد د هغوی پر رول خبرې کړې دي.


هغه زیاته کړې، امریکایي ځواکونه چې له تېرو شاوخوا ۱۸ کلونو راهیسې په افغانستان کې مېشت دي، څو کاله به نور هم هلته پاتې وي.

جنرال میلي ویلي: «موږ افغانستان ته د دې لپاره ولاړو چې دغه هېواد بیا د ترهگرو ځاله نه شي او بیا پر متحده ایالتونو برید ونه کړي».

د نوموړي په خبره، دغه ماموریت لا بشپړ شوی نه دی او د دغه برې لپاره یې افغان حکومت او د افغانستان ځواکونه باید د خپل هېواد د امنیت ساتلو جوگه شي او پرې نږدي چې ترهگر یې له هېواده پر نورو هېوادونو، په ځانگړې توگه پر امریکا برید وکړي. دا په داسې حال کې ده چې له دې مخکې د امریکا ولسمشر ټرمپ ویلي وو چې خپل ځواکونه به له بهرنیو هېوادونو وباسي.

هغه له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د ایستلو خبره هم کړې وه.

خو د امریکا لوی درستیز مشخصاً دا نه دي ویلي چې په افغانستان کې به یې ځواکونه څو کاله نور هم پاتې شي، خو له دې مخکې امریکایي چارواکو په ډاگه کړې وه چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شتون په حالاتو او شرایطو او له طالبانو سره د سولې په خبرو پورې تړلی دی. په قطر کې د امریکا ځانگړې استازي زلمي خلیلزاد له طالبانو سره د سولې په خبرو کې په تدریجي ډول له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو خبره هم کړې وه.



## د کانونو او پټرولیم وزارت: د لومړي ځل لپاره په هېواد کې له گازو د برېښنا تولید په ازمایښتي ډول پیل شو

په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره له طبیعي گازو د برېښنا د تولید دستگاه ازمایښتي فعالیت پیل کړی دی.

د کانونو او پټرولیم وزارت له خوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې دغه دستگاه د جوزجان په مرکز شبرغان ښار کې فعاله شوې ده.

سرچینې زیاته کړې، له طبیعي گازو څخه د برېښنا تولیدا یاده دستگاه چې د (۴۰) مېگاواټه برېښنا تولید ظرفیت لري او پانگونه یې د بیات پاور له خوا شوې، په ازمایښتي توگه یې د برېښنا په تولید پیل کړی دی.

دغه وزارت ویلي چې د یادې دستگاه تولیدي برېښنا به د افغانستان د برېښنا شرکت له لارې د سرپل، جوزجان او فاریاب ولایتونو زرگونه کورنۍ د برېښنا له گټې برخمنې کړي.



د کانونو او پټرولیم وزارت ویاند قدیر خان متفي ویلي، پر یادې دستگاه ۱۲ میلیونه امریکایي ډالر پانگونه شوې چې د اسیا پراختیایي بانک هم پکې مرسته کړې ده.

هغه زیاته کړې، د کانونو او پټرولیم وزارت هڅه کوي چې د یادې پروژې په پلي کېدو سره په افغانستان کې له نورو طبیعي گازو څخه هم د برېښنا د تولید په برخه کې گټه واخلي.

د یادونې ده چې نړیوال بانک د روان ۲۰۱۹ ز کال په اکتوبر میاشت کې په افغانستان کې له طبیعي زېرمو څخه د انرژۍ د تولید په برخه کې له دوو پروژو سره د مرستې په توگه د ۹۸.۸ میلیونه امریکایي ډالرو ورکولو منظورېدو خبر ورکړی دی.

دغه بانک ویلي چې له یادو پروژو یې موخه د داخلي سرچینو له لارې د انرژۍ د تولید د کچې لوړول او د انرژۍ پر سکټور د خصوصي پانگونې هڅول دي.

د برېښنا شرکت د معلوماتو له مخې، دا مهال افغانستان د خپلې اړتیا ۷۰ سلنه برېښنا له تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان څخه واردوي او ۳۰ سلنه برېښنا له خپلو داخلي منابعو څخه تولیدوي.

مسير ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



المبارک

توریستي شرکت

المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!




0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55

کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



سه شنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۲۱مه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۱۲مه | ٤٦۱مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily



| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ١٤ | ١٥ | ١٧ | ١٥ | ٢٤ | ٢٠ |
| ٤ | ٢ | ٥ | ٤ | ١١ | ٨ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٥٧ | لمر ختل ۰٦:٢٢ | ماسپښین ١١:٣٨ | مازیگر ۰٢:٣١ | ماښام ۰٤:٥٣ | ماخوستن ۰٦:١٩

## نړۍ




## سپینه ماڼۍ: که ترکیه له روسیې د توغندیو پېر ونه دروي، له سختو بندیزونو سره به مخ شي



د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار رابرټ اوبراین ویلي، متحده ایالتونه د ترکیې له خوا د روسیې د دفاعي توغندیو د سیستم له پېرلو سره جدي مخالف دي او که انقره له دغې معاملې لاس وانه خلي، ښايي له سختو بندیزونو سره مخ شي.

اوبراین له سي بي اېس ټلوېزیون سره په مرکه کې ویلي چې ترکیه به ډېر ژر د دغو بندیزونو اغېز احساس کړي.

د اوبراین اشاره هغو بندیزونو ته وه چې د ده په وینا، د امریکا د کانګرېس د دواړو ګوندونو په ملاتړ به تصویب شي.

د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت سلاکار دغه څرګندونې داسې مهال کوي چې ټاکل شوې د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د راتلونکې چهارشنبې په ورځ په سپینه ماڼۍ کې له ولسمشر ټرمپ سره وګوري.

د ناټو دغه دواړه متحدین د روسیې د هوايي مدافعې ضد توغندیو د اېس-۴۰۰ سیستم چې انقره یې له روسیې پېري، سربېره، د سوریې په شمال کې د ترکیې د پوځي عملیاتو په ګډون، د ځینو مسایلو په اړه په خپلو کې سره اختلاف لري.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې ترکي چارواکو اعلان وکړ چې روان میلادي کال له روسیې څخه د اېس- ۴۰۰ دفاعي سیستم دوې جوپې له شوې هوکړې سره سم ترکیې ته رسېدلي دي، چې په ۲۰۲۰ میلادي کال کې به یې د نصبولو چارې بشپړې شي.

## جنوبي کوریا: امریکا هڅه کوي چې شمالي کوریا یوځل بیا د خبرو مېز ته راولي



جنوبي کوریا ویلي، د امریکا متحده ایالتونه هڅه کوي چې د کوریا په ټاپووزمه کې د امنیت او اټومي مسایلو په اړه د بحث لپاره شمالي کوریا یوځل بیا د خبرو مېز ته راولي.

دا په داسې حال کې ده چې د شمالي کوریا هغه مهلت د را رسېدو په حال کې دی، چې پیونګ یانګ ویلي وو، باید په دې ډول خبرو کې د واشنګټن له لوري انعطاف د زیاتېدو باعث شي.

د جنوبي کوریا د ملي امنیت سلاکار چونګ یوی یونګ خبریالانو ته ویلي، سېول د شمالي کوریا د مشر کېم جونګ اون مهلت ته په جدي نظر ګوري.

هغه زیاته کړې، شمالي کوریا د روان میلادي کال پای د وروستي مهلت په توګه ښودلی چې د دغه هېواد دریځ ښيي.

نوموړي دغه راز ویلي چې جنوبي کوریا له امریکا سره هم کار کوي، څو دواړه لوري یوه ګډ ټکي ته ورسېږي.

یونګ زیاته کړې، د شمالي کوریا او امریکا دربېمه سرمشریزه یوازې په هغه صورت کې ممکنه ده چې د دواړو هېوادونو جګپوړي چارواکي خبرې وکړي او په خبرو کې پرمختګ وشي.

د یادونې ده چې کېم د روان کال په فبروري میاشت کې په ویتنام کې له ولسمشر ټرمپ سره په دویمه سرمشریزه کې غوښتنه کړې وه، چې واشنګټن د شمالي کوریا د اټومي تاسیساتو د ویجاړولو په بدل کې باید ځینې بندیزونه لرې کړي، چې د ولسمشر ټرمپ له سخت غبرګون سره مخ شوه، خو وروسته بیا دواړو خواوو د خبرو د بیا پیلولو ژمنه وکړه.

## فیفا: تکت‌های انتخاباتی، باید در کار کمیسیون های انتخاباتی مداخله نکنند




نهاد انتخابات آزاد و عادلانه افغانستان (فیفا) می گوید که کمیسیون شکایات انتخاباتی، مراکز و محلاتی را که در اثر شکایات بررسی قرار می گیرد، در هماهنگی لازم با کمیسیون مستقل انتخابات انجام دهد که در صورت امکان، بررسی‌ها از سوی هر دو کمیسیون به صورت همزمان انجام شود.

منبع افزود، پیشنهاد می گردد که کمیسیون شکایات انتخاباتی نیز مراکز و محلاتی را که در اثر شکایات مورد بررسی قرار می گیرد، در هماهنگی لازم با نهادهای ناظر، به خصوص کمیسیون مستقل انتخابات انجام دهد، که در صورت امکان، بررسی ها از سوی هر دو کمیسیون به صورت همزمان انجام شود؛ تا هم در عرصهٔ تأمین شفافیت و هم تسهیل حضور ناظرین، زمینه ای بهتر فراهم گردد.


فیفا همچنان پیشنهاد نموده است تا کمیسیون مستقل انتخابات، در روشنی اصول و قوانین موجود، جلسه فوق العاده ای را با نماینده گان باصلاحیت تمامی کاندیدها، با حضورداشت ناظرین برگزار نماید و منطق کار خود و شیوه های تطبیق آن را با همگان شریک ساخته و مشوره های قانونی و اصولی کاندیدها و نهادهای ناظر در مورد را در نظر بگیرد.

از سوی دیگر، بنیاد انتخابات شفاف افغانستان (تیفا) از تکت های انتخاباتی و طرف های ذینفع پروسه انتخابات خواسته است تا در کار کمیسیون های انتخاباتی مداخله نکنند و اجازه دهند؛ تا کمیسیون ها در فضای آرام، کار تخنیکی و مسلکی خود را به پیش ببرند.

منبع همچنان نوشته است که تیفا، از کمیسیون های انتخاباتی، جداً می خواهد تا طبق قانون انتخابات، مقررات و لوایحی که قبلاً تصویب نموده اند، عمل کرده و برای مردم از سلامت پروسه اطمینان همه جانبه دهند؛ تا مردم مطمئن شوند که رای شان سرنوشت انتخابات را تعیین خواهد نمود.

## ژوند

## په ښځو کې د زړه ناروغۍ ځینې نښې



په ښځو کې د نس درد؛ د زړه د ناروغۍ لامل کېدای شي. ډاکټر سوزان شتاینباوم وايي، ډېری هغه ښځې چې د زړه پر ناروغۍ اخته وي، د سینې په قفس کې نه، بلکې په نس کې درد احساسوي. همدا راز د زړه پر ناروغۍ اخته ښځې ډېر کله په ژامو او غاړه کې هم دردونه احساسوي. که مېرمنې پوه شي چې د نس درد یې د میاشتنۍ ناروغۍ او یا هم په کولمو کې نه دی او ناڅاپي ورته پیدا شوی، هرو مرو دې ډاکټر ته د معاینې لپاره ورشي.

د لاسونو او پښو ویده کېدل، کرختېدل، یخېدل او ور سره درد، د دې نښه ده چې د بدن دې برخې ته په سم ډول اکسېجن نه رسېږي. د وخت په تېرېدو سره، دې برخو ته د اکسېجن نه رسېدل اعصابو ته زیان رسوي. په اصل کې په لاسونو او پښو کې چې تاسو هر ډول حس لرئ، د اعصابو له سلامتیا سره اړیکه لري. که پوه شی چې د لاسونو او پښو کرختي مو کومه بله توجیه نه لري، نو پوه شی چې ستونزه مو په زړه کې ده.

## خپل ارزښت یوازې خپله ټاکلی شی



کله چې یو څوک غواړي د حقارت حس په تاسو کې پیاوړی کړي، بدې او ناوړه خبرې درته کوي، نو د دې پر ځای چې په خبرو یې غوسه او خپه شی او یا یې بیا بیا خبرې ستاسې په ذهن کې انګازې وکړي، یوازې د سر تاج مو لږ صاف او پاک کړئ. له ډېرې هڅې سره سره هم هغوی نه شي کولای بدل مو کړي. هغه وخت مو بدلولای شي چې تاسې خپله د دې کار اجازه ورکړی. هغوی مو تقدیر نه شي بدلولای، هغوی نه شي کولای ستاسې ارزښت وټاکي. هغوی ستاسې د ژوند شریکان نه دي، بلکې تاسې یو ازاد او خپلواک کس یاست. خدای پاک (ج) تاسې ته د یوه شهکار لقب درکړی دی. هغه تاسې ته د پادشاه او ملکې نوم اخیستی دی. تاسې باید په خپل ژوند کې حکمراني وکړئ، ځکه له همدې کبله یې تاسې ته د افتخار تاج پر سر ایښی دی. تاسې باید له دې ځان خبر کړئ چې څوک یاست. که غواړی تاج مو وساتی، نو باید کلک او قوي و اوسی، نو داسې ووایئ: زه نه پرېږدم چې د خلکو د منفي خبرو او فکرونو تر اغېز لاندې راشم او خپل د سر تاج له لاسه ورکړم. زه ښه پوهېږم چې یو له افتخاره ډک تاج مې پر سر دی.